# د ماشوم د حقونو نړیوال کنوانسیون



Illustrasjon: Hanohiki/ Adobestock

دا تړون **۵۴** مادې لري چې **۴۲** مادې يې په لنډ ډول او د ماشومانو په ژبه پورته موجودې دي او پاتې مادو کې د دولتونو د دندو په هکله، چې د دې تړون د پلي کولو په برخه کې يې لري يادونه شوې ده.

**لومړۍ ماده**: هر څوک چې عمر يې له ۱۸ کلو کم وي، ماشوم دی.

**دويمه ماده**: د ماشومانو ترمنځ بايد توپير نه وي.

**درېيمه ماده**: د ماشومانو ګټې له ټولو کارونو نه مهمې دي.

**څلورمه ماده**: دولتونه بايد هڅه وکړي، چې د ماشومانو حقونه هغوی ته ورکړل شي.

**پنځمه ماده**: دولتونه بايد د ماشوم د مور او پلار او د هغوی د قانوني سرپرست حقونو او مسوليتونو ته درناوی وکړي.

**شپږمه ماده**: دولتونه بايد د ماشومانو ژوند کول، ژوندي پاتې کېدل او د هغوی وده تضمين کړي.

**اوومه ماده**: هر ماشوم حق لري چې نوم، مليت او تذکره ولري.

**اتمه ماده**: دولتونه باید د ماشوم د پېژندني، چې د ماشوم نوم او په یوې کورنۍ پورې تړاو پکې راځي، ملاتړ وکړي.

**نهمه ماده**: ماشوم حق لري، چې له خپل مور او پلار سره ژوند وکړي.

**لسمه ماده**: که د یو ماشوم د مور او پلار په بل هېواد کې ژوند کوي؛ نو ماشوم حق لري، چې په آسانۍ هغوی ځنګ ته ورشي.

**یوولسمه ماده**: دولتونه باید له هېواده بهر د ماشومانو د ناقانونه لېږدوني مخه ونیسي.

**دولسمه ماده**: د ماشوم نظریاتو ته باید درناوی وشي.

**دیارلسمه ماده**: ماشومان کولای شي خپل نظریات په آزاده توګه ووایي.

**څوارلسمه ماده**: ماشومان کولای شي خپلې مذهبي چارې ترسره کړي.

**پنځلسمه ماده**: ماشومان کولای شي ډله جوړه کړي او ټولنې ولري.

**شپاړسمه ماده**: د ماشومانو په خصوصي چارو کې باید په ناقانونه توګه لاسوهنه ونشي.

**اوه لسمه ماده**: ماشومان کولای شي د راډیو- تلوېزیون ورځپاڼې او کتاب له لارې معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي.

**اتلسمه ماده**: مور او پلار د ماشوم د ودې، سوکالۍ او زده کړې مسؤلیت لري، او باید په نوموړو چارو کې یې دولت ملاتړ وکړي.

**نولسمه ماده**: دولت باید اجازه ورنکړي چې پلار، مور یا بل څوک له ماشومانو سره له بد چلند یا تاوتریخوالي کار واخلي.

**شلمه ماده**: دولت باید له هغو ماشومانو سره چې خپلې کورنۍ یې له لاسه ورکړې دي مرسته وکړي او د هغوی لپاره د ژوند ښه چاپېریال برابر کړي.

**یوویشتمه ماده:** په هغه هېواد کې چې د ماشوم فرزندي اخیستل قانوني دي، دولت باید یواځې د ماشوم ګټه د فرزندي اخیستو پرمهال په پام کې ولري.

**دوه ویشتمه ماده:** کډوال ماشومان باید وکړای شي، په بل هېواد کې لکه د نورو ماشومانو په شان ژوند وکړي.

**درویشتمه ماده:** معلول ماشومان باید له ځانګړو مرستو او د زده کړې له امکاناتو برخمن شي.

**څلورویشتمه ماده:** ټول ماشومان باید د ناروغۍ په صورت کې ډاکتر او درملو ته لاسرسی ولري.

**پنځه ویشتمه ماده:** که یو ماشوم کورنۍ نلري نو د دولت دنده ده، چې د ماشوم لپاره مناسبه کورنۍ پیدا کړي او تل ماشوم ته پاملرنه وکړي.

**شپږ ویشتمه ماده:** ماشومان باید له ټولنیزې بیمې نه برخمن وي.

**اوه ویشتمه ماده:** ماشومان باید د ژوند له ښو شرایطو نه د فکري، جسمي، اخلاقي او ټولنیزې ودې لپاره برخمن شي.

**اته ویشتمه ماده:** ټول ماشومان باید وکړای شي، چې ښوونځي ته لاړ شي او درس ووایي.

**نهه ویشتمه ماده:** د ماشوم د ښوونې او روزنې هدف باید د ماشوم د شخصیت او وړتیا وو، وده وي.

**دېرشمه ماده:** ماشومان چې په هر قوم او مذهب پورې اړه لري حق لري خپل فرهنګ ولري او خپلې مذهبي چارې ترسره کړي او په خپلې مورنۍ ژبې خبرې وکړي.

**یو دېرشمه ماده:** ماشومان د لوبو او تفریح حق لري او باید په ښه او برابره توګه په فرهنګي، هنري، سپورټي او تفریحي فعالیتونو کې د ګډون کولو له امکاناتو نه برخمن شي.

**دوه دېرشمه ماده:** دولتونه باید د کار لپاره عمر وټاکي او هېڅوک حق نه لري ماشومان په زوره د هغه کار کارکولو ته اړ باسي، چې د هغوی وده او روغتیا په خطر کې واچوي.

**دري دېرشمه ماده:** دولتونه باید د ماشومانو لخوا د مخدره موادو د کاروني مخه ونیسي او دې ته پاملرنه وکړي، چې له ماشومانو نه د مخدره موادو په جوړولو او پلورلو کې کار وانه خیستل شي.

**څلور دېرشمه ماده:** دولتونه دنده لري چې پرې نږدي، چې له ماشومانو نه ناوړه جنسي ګټه واخیستل شي.

**پنځه دېرشمه ماده:** دولتونه باید د ماشومانو د غلا کېدو، پېرودنې او پلورنې مخه ونیسي.

**شپږ دېرشمه ماده:** له ماشومانو نه باید داسې کار وانه خیستل شي، چې د هغوی روغتیا او وده په خطر کې واچوي.

**اوه دېرشمه ماده:** د ماشومانو ربړونه، له هغوی سره ظالمانه چلند، دایمي بندیانول او د هغوی اعدام منع دی.

**اته دېرشمه ماده:** د جګړې پر مهال باید ماشومانو سره مرسته وشي او د هغوی ملاتړ وشي، له پنځلسو کلو د کم عمر ماشومان باید په جنګ کې ګډون ونکړي.

**نهه دېرشمه ماده:** باید د هغو ماشومانو ساتنه او ملاتړ وشي، چې له جګړو او بد چلند نه زیانمن شوي وي.

**څلوېښتمه ماده:** تورن ماشومان د محکمو د وروستي حکم تر صادرېدو پورې بې ګناه دي، له تورنو ماشومانو سره باید ښه چلند وکړو او له هغوی سره قانوني مرسته وکړو، ماشومانو ته باید سخته سزا ورنکړل شي.

**یو څلوېښتمه ماده:** د هغو هېوادونو قانونونه چې له دې تړون نه ډېر د ماشومانو په ګټه دي، پخپله کارول کېږي.

**دوه څلوېښتمه ماده:** دولتونه باید ماشومان او مشران له دې تړون نه خبر کړي او دا تړون هغوی ته وروپېژني.



Illustrasjon: Hanohiki/ Adobestock

# د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون پوښتنې:

1. حق څه شي دي؟
2. د ماشومانو حقونه ځه شي دي
3. د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون څه وخت منځته راغله؟
4. د ماشومانو د حقونونړیوال کنوانسیون څو مادې لري؟
5. د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون پنځه مادې وواياست.
6. آیا د قومي ژبني، مذهبي، او سیمه ییزو اړیکو له مخې کولی شو یو څوک له بل چا څخه ښه او اوچت وشمیرو؟